# کرغېړن ملاعمر د امریکا او پاکستان د لاس نیانځکه وه!

له دوه لسیزو راهیسی زمونږ کړېدلي ولس د یوه ناپوه، ځناور او د ملاعمر په نامه یو نامعلوم کس په فرمانونو صادرولو سره، وینه‌بهیدنه او ویجاړی او کړاونه و آزمایل. ملا عمر د وطن‌پلورنې او ناپوهۍ او شلېدلتیا نښه وه او د طالبان «تحریک» هم زمونږ د هیواد په تاریخ کی د انسان او ښځې ضد ډلې په توګه ثبت شوی.

نور نو ټولو ته په ډاګه ده چی ملاعمر او ډله یی د امریکا او انګلستان ګډه پروژه وه چی د پاکستان آی‌اس‌آی په مرسته هغه سینګار او ډګر ته راکښته شوه. ملاعمر ددی عصر «ملای لنګ» په څېر، د آی‌اس‌آی شیطانی دستګاه د لاس یو بی‌واکه نیانځکه وه چی له کلونو راهیسی یی هغه په کویټه او کراچی کی تر خپل نظر لاندی په پټنځایونو کی بندی وساته، ولی په رسنیو کی د «امیرالمومنین» تر نامه لاندی د هغه په لاسلیک اعلامې خپرولی او ویره یی منځته راوړله. کله چی ددغې نیانځکی د ګټې اخیستو موده پای ته ورسیده، له راز او ذلت څخه ډک مرګ یی د بادار له لوری اعلان شو.

طالبان چی د پردیو د مریتوب زنځیر یی په غاړه دی، د خپلو تنظیمی ملګرو په‌څېر یی، افغانستان د ژوری کندی په لور یووړو، اوسیدونکي یی په ویر او بدمرغۍ کی ډوب کړل. طالبان د «سرې جګړې» پر مهال د امریکا ښکیلاکګرو سیاستونو پایله ده او که څه هم په ظاهری توګه سپینه مانۍ له هغوی سره جګړه کوی، ولی د افغانستان نیولو او زمونږ په هیواد کی پوځي اډو جوړولو کی له هغوي څخه ډیره ګټه پورته کړه. بی‌ځایه نه و چی جوبایدن، د اوباما مرستیال، په رسمی توګه اعلان وکړ چی «طالبان زمونږ دښمنان ندي». په همدی دلیل، په تیرو ۱۵ کلونو د لسګونو زرو قوتونو په شتون کی چی زمونږ پر هیواد یی یرغل کړی، نه یوازې چی دغه ځناور له منځه ولاړ نه چی ورځ تر بلی یی واک زیات شو، آن تردی چی ځنې انسان‌خوړونکی مشران یی د کابل په لاسپوځې دولت کی ځای پر ځای شول.

طالبانود خپل امیر په وژل کیدو درې ورځې ویر اعلان کړ، ولی د ملاعمر، جلال‌الدین حقانی او نورو ټولو تنظیمی او فکري ملګرو وژل کیدل یی، زمونږ ولس ته نه ویر بلکه د کیڼې ښودلو او خوښۍ او ښادۍ ځای دی. د ملاعمر په څېر کرغېړنو جلادانو په مړینه ښایی د وحید مژده، روستار تره‌کی، اسحق نګارګر، کرزی په څېر نورې کرغېړنی څېرې ویرجنی شی، نه هغه خلک چی ژوند او هستی یی د طالبانو دځان‌وژنې او چاودنې او تښتونې له امله په سره اور کی تیریږي.

د یوې پرشاتلونکی او پردیو پوری تړلی ډلی په مشرتابه کی د څېر بدلون هیڅ کله نشی کولای چی د هغوی په ماهیت او د افغانستان په حالاتو کوم اثر ولري. ولی د هغوی د دننني تضادونو مخه د هغوی بهرني واکداران هم نشی نیولای، له همدی کبله ډیر ژر به ووینو چی د طالبان مشران د څوکۍ تر لاسه کولو لپاره و یوبل خیټې وځیري. که په لسګونو ملاعمر د تاریخ ډیران ته وغورځول شی، تر هغې کی ددوی د خالق او ملاتړو لکه د امریکا او پاکستان لاسونه زمونږ له هیواد څخه لنډ نشي، دغه مرداریدل زمونږ ولس ته هیڅ ګټه نلري.

که کرزی او غنی او عبدالله او د ارګ نور لاسپوڅي زر واری هم ملا عمر او نور طالبي خاینان د «وسلوال اپوزیسیون» او «ناراضه ورونه» ونوموی او هغوی و نازوی، ولی یوازی په بامیانو کی د بودا مجسمو ویجاړول هم کی وی دوی به هیڅکله زمونږ خلک او تاریخ و نه بخښي. برسیره پردی د طالبانو هر یو مشر لکه ملا اختر منصور، عبدالقیوم ذاکر، منصور دادالله، ملا عبدالمنان، سراج‌الدین حقانی، سید طیب آغا، وکیل احمد متوکل، ملا ضعیف، خیرالله خیرخواه، آغاجان معتصم او نور د یکاولنګ او مزار عام‌وژنې او شمالي ځمکو سوزوني او د ښځو پر وړاندی ځناورتوب په تور د جنګي جنایتکارانو او ملی خاینانو په څیر په سختو سزاګانو محکوم دي.

هغه په اصلاح روڼ‌آندی او د طالبانو تالی‌څټي چی دغه د منځنی پیړۍ تور قوتونه د «ملی غورځنګ» په نامه یادوی په لومړي ګام دوی خپله پلشتی ځرګندوي. هغه ځواک چی له هر پلوه د پاکستان ځارګری اداري پوری تړلی وي او د هغوی معنوی مور بینظیر بوتو د هغوی انګریزی او امریکا اړیکې هم بربنډې کړې، څرنګه کولای شی چی یوه ذره هم له ځانه سره «ملی»‌والی ولري؟ همدا اوس د طالبان ځینی کړۍ د بشر ضد «ولایت فقیه» لمنې کی پرتې دی او د ایران کرغېړنی آخندی دستګاه په امر په هیواد کی په وژنه بوختی دي. دغه ملی‌ضد باندې په ارزانه بیه ځان په هرچا وپلوره او د پردیو ګټو لپاره یی زمونږ اقتصاد، کلتور، تاریخ، ټولنه او د ژوندانه ټولو چارو ته سخت زیان ورساوه.

د ملاعمر د مرئ په څیر ژوند او خوار مرګ ټولو پردی‌پالو جنایتکارانو او نوکرانو ته د عبرت سبق دی. تر هغی چی دوی خپل بادار ته د ګټې وړ دي، په سپکاوی له هغوی ګټه پورته کوی، او کله یی چی د ګټې اخیستو موده پای ته ورسیږي، په سپکاوی او خوارۍ سره هغوی لری غورځوي. دا د ټولو وطن‌پلورونکو برخلیک دی.

د «ملی ځناورتوب» حکومت په داسی حال له طالبانو سره د سولی خبرواترو له پیل څخه خبری کوی چی د طالبانو پروژه مخ پر ختمیدو ده او کوځه‌ډبی طالبان خپل سپین بیرغ په تور بدلوی او د «داعش» تر نامه لاندی د فاشیزم او ظلم بل پړاو پیلوي. دغه د «سولې پروسه» هیڅکله زمونږ ولس ته مثبت او هیله‌مند پیغام نلری، جګړه او وینه بهیدل به دوام ولری، ځکه چی امریکا او د پاکستان جنایتکار پوځ اوس هم د سیمې بی‌ثباته‌کولو کړنلاره په جدیت سره پر مخ بیایی، په هیڅ‌وجه د سولې غوښتونکی ندي. دغه خبری‌اتری یو چل دی چی ځنی طالبی انسان‌وژونکی د «منځ‌دریځه» تر نامه لاندی وویني، د کابل لاسپوڅی دستګاه کی ځای پر ځای کړي.

ریښتینی سوله هغه وخت په هیواد کی پلی کیداشی چی طالبی، ګلبدینی، تنظیمی او داعشی ټول وطن‌پلورنکي له هیواد څخه پاک شي، او د هغوی بهرنیو واکدارانو لاس زمونږ له برخلیک څخه لنډ شي. دغې غوښتنی ته د رسیدو یواځنی لاره په سراسري یووالي او دوامداره، له پوهی ډکه او رغنده مبارزه کی نغښتی ده او بس. یواځی د کوبانی انقلابی ښځو او خلکو له زړورتیا او انقلابی روحیه څخه، په زدکړې کولای شوی چی افغانستان د بنسټ‌پالی او پرشاتګ او نیواک له ویروس څخه وژغورو.

د «افغانستان د همبستګی ګوند» په دی باور دی چی امریکا او د هغې نیکتایی لرونکی نوکران د پردی ترشا له طالبانو سره د «سولی» تر ښکلی نوم لاندی په معامله بوخت دي او په امنیت او جګړې ختمیدو د خلکو له باور څخه ناوړه ګټه پورته

کوی، په پټه توګه د هیواد ناامنۍ او بې‌ثباتی په لور بوتللو لپاره کړنلاره جوړوي. د نړۍ روان حالات ددی ګواه دی چی د پنتاګون سیمېزه استراتیژی داده چی، ویرې او جګړې ته په لمن وهلو سره خپل آسیایی سیالان د هغې په اور کی راګیر او خپل واک وساتي. که ددغې څپې پر وړاندی خپله سینه ډال نکړو نو زمونږ افغانستان به نورې تورې او له وینو ډکی ورځې و آزمایی.

# د افغانستان د همبستګۍ ګوند

د ۱۳۹۴ کال د زمري ۱۱مه (۲۰۱۵ کال د آګست ۲مه)

info@hambastagi.org | facebook.com/hambastagi | +93 (0)700 23 15 90

**www.hambastagi.org**